نظرمحمد مطمئن
۲۰۱۴/۰۵/۱۲

# ليکوال او ژورنالستې بايد چې حکومت او طالب پلوی نه يې

په هيواد کې د بيان دازادی او رسنيو پرمختګ ته که سړی په عميق ډول فکر وکړي، هغه ډول مصنوعي ازادي او پرمختګ دی لکه چاروکي چې په نورو برخو کې د پرمختګ دعوه کوي.
ژورنالستې، ليکوال او رسنی مو هم ځينې يې د فساد، اختلاس او رشوت په ناوړه مرض اخته شوي، يوه ورځ به سړی ويني د هيواد دننه په مهمه رسنی کې به د ايران په ضد بحث او خبرونه وی، مګر بله ورځ به سړی وګوري چې همغه رسنی، همغه شخص او همغه خوله د ايران هيواد څخه په غير مستقيم ډول ملاتړ او ننګه کوي، يوه ورځ به يوه رسنی پر امريکا لګيږي، مګر بله ورځ چې کله د رسنی استازی يا مشر د امريکا سفارت ته د ورتګ چانس پيداکړي، او اذوقه ترلاسه کړي، بيا به د امريکا پر ګټه تبليغات کوي، او ډيری خو داسي رسنی دي چې پرته له فکر کولو د پاکستان هيواد، د هغه هيواد د ځينو ادارو او حتي د دغه هيواد د خلکو غندنه کوي، مګر کله چې د پاکستان سفارت له لاري اړيکي ورسره نيول کيږي، بيا د دوی په نيوکو کې ارامي راځي.
ځيني ليکوالان هم د دغه ناوړه دود قرباني شوي، که هر سياسي چاروکي ورته امکانات او پيسي چمتو کړي نو بيا پرته له دي چې د خپل حيثيت په اړه فکر وکړي، تول سرحدونه ماتوي او د قلم خوله دهغه چا د چوپړ له پاره کاروي چې د ده له پاره تر نورو ډيري پيسي او امکانات ورکوي.
ژورنالستان هغه ډله ده چې تري توقع کيږي چې د خپل ولس اواز چاروکو ته په سم ډول ورسوي، بدبختانه په وروستيو وختونو کي د مختلفو لاملونو له کبله ځيني ژورنالستان هم د بي پري اصول په نظر کې نه نيسي او يو طرفه خبرونه او تبصرې رسنيو ته د دوی له لوري استول کيږي.
موږ داسي ليکوالان هم لرو چې که د هغه ۶ او ۷ کلونه مخکني ليکني په مستعار نومونو چې دوی کړي سړي ولولي نو د ليکنو څخه يې معلوميږي چې داغريب ليکوال به اوس چيرته په غره کې د راکټ سره ناست وي، په کلاشينکوف به اکتفاء نه کوي، مګر همدغه وړه ډله ليکوالان د نامعلومو دلايلو له مخې اوس د دې پر ځای چې د هيواد د ګټو له پاره کار وکړي، په لوی لاس د ځينو ځانګړو دولتي ادارو سره ځان تړلي بنيي او په زوره د ولس يوه لويه برخه او د خپل فکر مخالفين د هيواد د ګټو په مخالفت تورنوي، دا ډول ځيني داسي ليکوالان هم شته چې په مستعار نومونو به يې داسي ليکني کولي چې فکر کيدی ممکن که طالب او يا د طالب خواخوږی په لاس ورشي وينه به يې وڅښي، مګر همغه کسان دي چې اوس د طالب څخه مستقيما دفاع کوي او د دولت پر ضد ليکني کوي، دغه ډول مثالونه موږ په هيواد کې دننه او بهر لرو.
زما په آند هر ليکوال حق لري چې د خپل نظر اظهار او که اړتيا وليدل شي په علمي ډول له خپل نظر څخه دفاع هم وکړي، داکه ليکوال د حکومت پلوی نظر لري او يا طالب او يا هم اسلامي حزب يا د کمونستانو د نظرياتو څخه دفاع کوي. مګر که بل لوری غواړي د هغه نظر رد کړي هغوی ته هم په کار ده چې په علمي استدلال سره د بل افغان نظر ته ځواب ووايي، زه خو وايم که ممکن وي چې کله خو د ليکوالو تر منځ ناستي او مجلسونه، کردي ميزونه جوړ کړل شي، له احساساتو کار وانه خلي په خپلو منځونو کې د يو بل نظر ته د احترام او زغم په لرلو سره بحثونه وکړي، ژورنالستې زما په آند له ليکوال سره توپير لري، ژورنالستې ته د اصولو له مخې په کار ده چې حقايق هر ډول وي کټ مټ يې خلکو ته ورسوي، پرته له دي چې ناسم او د ځينو خاصو کړيو ګټي يا خپل نظر پکي ځای کړي، رسنی زموږ په هيواد کي لا هم هغه پړاو ته نه دي رسيدلي چې افغان ولس توقع ولري چې بي پري خبرونه او تبصرې دي ولس او چاروکو ته وړاندي کړي، ولي داهم بايد ومنو چې په يوه کمه سلنه رسنی تر يو حده کوشش کړی تر څو ځيني حقايق خلکو ته کټ مټ وړاندي کړي.
ليکوال او ژورنالستې ته په کار ده چې دوه بيلابيلي کړني سره جلا کړي، يوه د جنګ کربښه ده چې يو خواکي افغان امنيتي ځواک دی بل پلو طالبان دي، د هغوی دواړو ډلو کار دادی چې يو بل له منځه يوسي، يو بل ته ماين کيږدي، يو په بل باندي د راکټ، کلاشينکوف او پيکا ډزونه وکړی. دا ډول په امنيتي ځواکونو کې د دواړو خواو امنيتي او استخباراتي کسان هم راځي، د هرې ډلې استخباراتي کارکونکي ځان ته حق ورکوي چې د بلې ډلې د جنګ او د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دوی له پاره د امنیت ګواښ پروګرامونه مخکې له واقع کیدو شنډ کړي، او د یو بل پر ضد رواني او تبلیغاتی جګړه پرمخ بوځي. رسنۍ نه باید د دغسي رواني تبلیغاتو تر تاثیر لاندې راشي.
د رسنیو د جنګ کرښه کاملا زما په نظر د جنګ له کرښې سره توپیر لري هر لوری هڅه کوي چې د افغان ولس او نړیوالو له پاره داسي څه وړاندې کړي تر څو د هغوی ملاتړ ترلاسه کړي افغان حکومت د راډیو، ټلویزون، ورځپاڼو، مجلو، تبلیغاتي پاڼو، انلاین میډیا(سایټونه) په لویو ښارونو او لویو لارو کې پر غټو تختو لیکل شوي اعلانو او دا ډول د کورنیو او نړیوالو کنفرانسو له لارې هڅه کوي چې د افغانانو او نړیوالو ملاتړ ولري.
طالبان هم ورته هڅې کوي مګر دهغوی امکانات ډېر کم دی، ولې داسي معلومیږی چې هغوی ډېر سخت کار کوی، ځکه خو د کمو امکاناتو څخه اعظمي استفاده کوی، سړی ویلای شي چې حکومت امکانات ډېرلري مګر استفاده کمه، او طالب امکانات کم مګر استفاده زیاته کوي. په دې اړه ځو کاله مخکې د کړکېچ د نړیوال ګروپ [راپور](http://www.crisisgroup.org/en/regions/asia/south-asia/afghanistan/158-taliban-propaganda-winning-the-war-of-words.aspx)
(http://www.crisisgroup.org/en/regions/asia/south-asia/afghanistan/158-taliban-propaganda-winning-the-war-of-words.aspx)
هم د پام وړ دی.
طالبان اوسمهال ټلویزون نه لري، راډیو نه لري، ورځپاڼه نه لري، یواځې ډېر کار د انلاین میډیا په مټ کوي، خپل رسمي سایټ لري چې هغه هم داسي معلومیږی یواځې سیاسي کسان یې ګوري، او ډېر لیدونکي له دې امله هم نه لري چې وخت په وخت دغه سایټ له تخنیکي ستونزو سره مخ وي، د الصمود په نوم مجله لري، چې عربي ده، د افغانستان په داخل کې مشکله ده چې پیداشي.
که افغان حکومت او نړیوال د بیان د ازادۍ او رسنیو د پرمختګ دعوه کوي، زما په نظر چې دوی په دغه خبره کې رښتوني نه دي، زما هیله او وړاندیز دادی چې راتلونکي حکومت هر چاته په حقیقي ډول د بیان د ازادۍ حق ورکړي، دا ډول هڅه وکړي چې رسنۍ تر ډېره حده بې پلوه وسائل شي.
د افغان ولس له ډېرو ځوانانو، پیغلو، محصلینو، زده کوونکو، سپین ږیرو او سپین سرو دا ډول له روشنفکره، مذهبي او روحانی طبقې خلکو سره د طالبانو په اړه ډول ډول سوالونه او پوښتني شته، ولې هغوی د دی چانس نه لري چې د ولس پوښتنو ته ځواب ووایي، ځومره به ښه وای چې د رسنیو بې پلوه اداره وای، او پر دغې مهمي موضوع یې کار کړی وای، داسي زمینه یې برابره کړي وای چې طالبانو په مخامخ ډول د افغان ولس پوښتنو ته ځواب ویلی وای. د دې ګټه به دا وه چې عامو خلکو او آن د طالبانو مخالفینو به د هغوی په اړه سم پوهاوی درلود، قضاوت به یې هم سم وو، او له هغوی سره د تعامل په اړه به پالیسي جوړوونکو هم واقعبینانه پرېکړې کولی شوای. مثلاً د سولې د خبرو په اړه، د تفاهم په اړه او د نورو برخلیک ټاکونکو مسایلو په اړه دې هم حکومت، هم رسنۍ، هم مدني ټولني او ولس دې ته اړتیا لري چې لومړی طالبان سم درک کړي بیا یې په اړه قضاوت او پرېکړه وکړي. ناسم معلومات ناسم قضاوت زېږوي، او ناسم قضاوت د غلطو پالیسیو عمده عامل دی.
افغان حکومت چې له مختلفو لارو هڅه کوي ولس ته خپل نظر او پروګرام هغه هم په نیمګړي ډول وړاندې کړي، ولې د بیان د ازادي او رسنیو د بې طرفي له مخې طالبانو ته افغان حکومت او نړیوال اجازه نه ورکوی چې هغوی هم د ځینو پوښتنو په اړه د رسنیو د لارې سپیناوی وکړي؟
ځومره به ښه وای چې د افغان حکومت او طالب ویندویانو تر منځ هم ډیبیټ (مناظره) افغان رسنیو په کار اچولی وای، ځومره به ښه وای چې د طالب او افغان حکومت ویندویانو له خوا په ژوندي ډول د خلکو پوښتنو ته ځواب ویل کیدلای (ممکن دسکایپ کنفرانس او یا ویډیو کنفرانس د لارې هغه چاته زمینه برابره شي چې امنیتي ستونزه لري)، مګر تر دی به دابنه وای چې د رسنیو کارکوونکي د هر لور چې وي هغوی ته بل لوری امنیتي ستونزه جوړه نه کړي، ولې دغه کسان باید د هر لوري څخه معلوم او په شمار ځو تنه وي، تر څو له دې لارې هغوی د استخباراتو په کارکونکو بد نام نه شي.
زما اصلي موخه داده چې لیکوال او ژورنالسټ باید چې په دې نوم ونه ټکول شي چې هغه ولې د خپل نظر اظهار کوي او یا داچې پلانی لیکوال حکومت پلوه دی، پلاني اربکي پلوه دی، پلاني امریکا پلوه، پلانی کمونسټ پلوه، پلاني حزب پلوه او پلانی طالب پلوه دی، زما په آند هر لیکوال حق لري چې خپل نظریات د ژونالیزم، نړیوالو او کورنیو اصولو له مخي خلکو ته وړاندې کړي، مقابل شخص، لوری او هر ځوک یې هم باید درناوی ولري او له دی سربیره په علمي انداز د هغه د نظر ځواب (رد یا منل) وکړي، نه داچې د احساساتو له امله خپل لیکوالان په ډول ډول نومونو بدنام کړو، د پردیو هیوادو ټاپې پرې ولګو، او سپکې سپوري ورته وکړو. په حقیقت کې، زموږ په اصیل افغاني کلتور کې زغم، د یو بل درک کول او له خپل مخالف سره کېناستل جرګه کېدل، منځګړتوب کول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ډېره پخوانۍ سابقه لري. زموږ روشنفکران، رسنۍ، ليکوالان، خبريالان او سياستوال اوس هم له دغي ځانګړنې څخه تر يو حده برخمن دي، خصوصاً نورو هېوادو ته په پام. خو زما وېره داده چې دغه بښګڼه ورځ تر بلې پيکه کېږي، او سياسي راډيکاليزم يا افراطيت په مختلفو اړخونو کې زياتېږي. يوه لويه نښه يې له بېلابېلو سياسي لوريو سره، مثلاً حکومت او طالبانو سره، د رسنيو، ليکوالانو او روڼ اندو توپيري چلند دی.
توپيريز چلند سرې ډېر ځوروي. همدا ډول تعصب او ړانده قضاوتونه د قومي مسايلو په اړه هم مخ په زياتېدو دي. څو ورځې وړاندې مې يوه عجيبه ليکنه تر سترګو شوه

(http://www.kabulpress.org/my/spip.php?article196166)

زه پوه شوم چې خود غرضه خلکو د دې له پاره کړې چې په افغان ولس کې قومي جنګ او قومي نښتې پيداکړي، په ليکنه کې يو قوم ته له سپکاوي سره سره د هغه قوم مشرانو ته هم سپکاوی شوی، عکسونه يې په اور سوځول ښودل کېږي، مګر هيڅ کوم ژورنالست، رسنۍ، او يا هم چاړواکي په دغه ليکنه او د رسنۍ په دغه ډول عمل غبرګون ونه ښودی، يواځې زما تر سترګو يوه اعلاميه شوه چې د کومې ازادې ټولنې له خوا خپره شوې وه.
د همدغه محروم قوم خپل سرې که لړ تيروتنه کوي، سهوه کوي، او يا حقايق ښکاره کوي، او يا د خپل نظر اظهار کوي، بيا نو زموږ وروڼه له ډانګ سره ورته ولاړ وي، په خپل کور او هېواد کې يې هم نه پرېږدي.
افغان دولت خپلې مشخصې پاڼي، راډيو، ټلويزون، رسمي سايټونه، مجلې او ورځپاڼې لري، دا ډول د باختر آژانس چې بشپړ دولتي اژانس دی، هيواد او انيس اخبارونه، د دې ترڅنګ خپل ځانګړې ليکوالان هم لري چې د حکومت د نظر سره سم سرمقالې او ليکنې کوي.
طالبان هم خپله رسمي پاڼه لري، او خپله رسمي مجله لري، دا ډول هغوی هم د اړتياسره سم ځانګړي ليکوالان لري تر څو د طالبانو د نظر سره سم سرمقالې او ليکنې وکړي.
زما په آند ښه خو داوه چې همدغو دواړو لورو ته منسوب رسنيو هم د ځينو هغو ليکوالو نظرونه او ليکنې خپرولای چې د افغان ولس په ګټه او بېطرفه ليکنې وي. ولې په دومره توپير چې دهمدغو ليکوالو د ليکنو له پاره ځانګړې ځای ولري، ترڅو د بېطرفه ليکوال نظر د رسمي رسنيو د ځانګړي ليکوال د نظر په ډول ونه ګڼل شي.
اوسمهال که د يو ليکوال ليکنه د حکومت په رسمي سايټ، مجله او يا ورځپاڼه کې خپور شي، سمدستي پرته له دې چې د هغه په اړه څېړنه وشي، دهغه نورې ليکنې وکتل شي، د حکومت پلوي ليکوال ټاپه پرې وهل کېږي، دا ډول که چېرته د طالبانو په رسمي سايټ او يا مجله کې د کوم ليکوال ليکنه خپره شي، نو هغه بيا حتمي طالب او په دول ډول نومونو تورن کېږي.
د امريکا له يرغل وروسته زموږ ځينې افغانان د طالبانو تر څنګ مجبوره شول چې هيواد پرېږدي او ټوپک ته لاس کړي، د هغه کور ورڅخه واخستل شو، دهغه ځمکه ورڅخه واخستل شوه، او هغه بې عزته او محروم شو.
که زموږ د ليکوالانو څخه قلم واخستل شي، د هغوی قلم بند کړل شي، د هغوی خوله بنده شي، او يا هغوی بنديان شي، وځورول شي، وټکول شي، محروم شي، ممکن چې همدغه ليکوالان بله ورځ د هغه لوري په مقابل کې د ليکنو جبهه خلاصه کړي د کوم لوري څخه چې ځورول کېږي.
زما د معلوماتو له مخې چې افغان حکومت په تيرو مياشتو کې ځينې ليکوالان او ژورنالستان نيولي، ځينې يې تهديد کړي، او ځينې يې خفه کړي، دا ډول يې ځينو رسنيو ته هم دهغوی د پروګرامونو په اړه ليکونه استولي تر څو د دوی د خوښې خلاف سياسي ميزونه ونه لري.
برعکس طالبانو هڅې پيل کړي چې د ژورنالستانو، ليکوالانو او رسنيو سره روابط ښه کړي، تماسونه ورسره ونيسي، خپل نظر ورته ورسوي، د هغوي د بې طرفه راپورونو، ليکنو او خبرونو د درناوی تر څنګ مننه ورڅخه وکړي.
**نتيجه:**
په کار ده چې دواړه لوري (افغان حکومت او طالبان) د ليکوالو او ژورنالستانو حقوقوته متعهد او ژمن ووسي، د دغې ناجنګي طبقې احترام ولري، او حق ورکړي چې خپل نظر د بېلابېلو لارو له خپل افغان ولس سره شريک کړي، دا ډول ليکوالانو، ژورنالستانو ته هم په کار ده چې د يو بل د نظر د زغم حوصله ولري، او په علمي او اکاډميک ډول د يو بل په مقابل کې عمل وکړي، د نظرونو د تبادلې له مخې يو بل ته قناعت ورکول شي، او په خپلو منځونو کې له توپيريز چلند څخه ډډه وکړي. د ولس غوښتنو ته مثبت، سم او پر وخت ځواب ووايي، خپل قلم د شخصي ګټو، ځانګړې حسد او نورو د ګټو له پاره ونه کاروي، هڅه وکړي چې د حقايقو په رابرسيره کولو کې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

حکومت او طالب لحاظ په مساوي ډول سره ونه کړي. ټولني ته هغه څه وړاندي کړي چي د افغان ولس په ګټه او زموږ د راتلونکي له پاره جوړونکی تصویر وي، نه داچي نفرتونه پیداشي، ډل بازي، یوه طرفه قضاوت، تهمتونه، یو او بل په قصدي او یا غیر قصدي ډول متضرره کړل شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ